# د انعطاف وړ پروګرام جوړونه

## د لومړیتوب د ډګر نه بهر د انعطاف منني او همکاری پروګرامول

په داسې حال کې چې د انعطاف وړ پروګرام جوړوني د لومړیتوب په ډګر کې اقدامونه د لومړیتوب نورو ډګرونو ته نشي ټاکل کیدلای، دا اقدامونه همدارنګه د افغانستان د خلکو د ژوند د شرایطو او لرلیدونو د دوامداره او پایښتونکي سمون ورکولو او د سولې، امنیت او پایښتونکي پرمختګ په موخه طرحه شوي دي.

د مثال په توګه، د المان حکومت د سویس د حکومت سره یوځای کار کوي چې د افغانستان د پوهنې د وزارت سره د لومړنیو او ثانوي زده کړو د کیفیت د کچې په لوړولو کې مرسته وکړي. د دې موخې لپاره، د ښوونکو د روزنې د ودې، د لوست د نصابونو د بیالیدنې او د زده کړې محتوا ته په افغانستان کې د کار د بازار سره سم په زیاته کچه د سمون ورکولو په لاره کې هڅې روانې دي. په دې ډول، په ۲۰۰۹ کال کې د ۲۲۰۰۰ نه زیاتو ښوونکو د دندې پر مهال روزنه کې ګډون وکړ.

په افغانستان کې د ریسک د مدیریت یو ځانګړۍ سیستم جوړشوی دی چې هغه پراختیایي اقدامونه چې د المان د حکومت له خوا پیل کیږي، حتی په داسې حالاتو کې چې امنیتي وضعه بې ثباته شوې هم وي، په اغیزمنه توګه ترسره شي. د کره تجزیو او تحلیلونو په پام کې نیولو او په محل کې د شتون وضعیت په هراړخیزې پیژندنې سره د امنیتي خطرونو کچه راټیټول کیږي او د افغانستان سره د المان په همکاریو کې بوخت کارکوونکو د امنیت په اړونده پریکړو کې خطر په بسیا توګه په پام کې نیول کیږي.

بالاخره، د افغانستان او المان د حکومتونو تر منځ د همکاری د څو اړخیزو کړنو او لاسته راوړنو د ثبتولو پروګرامونه په افغانستان کې میشته خلکو او په دواړو هیوادونو کې سیاسي چارواکو ته د خیروني په موخه شتون لري. د دې کار دپاره یو آنلاین ډیټابیس کارول کیږي چې په هغه کې معلومات او ارقام راټولیږي چې د کمونیکیشن د زیات شمیر وسیلو د استفادې وړ ګرځي او د افغانو رسنیو سره شریک کیږي. دا کار د افغان–المان د همکاری د کړنو څخه د خلکو د پوهاوي کچه لوړوي او د دغو پروژو په باب روڼتوب زیاتوي. د څارنې موخه ایز اقدامونه همدارنګه د پروژو د بریالیتوب د اندازه کولو او د راتلونکو پروژو د سمون ورکولو زمینه برابروي. برسیره پردې، د افغاني موسساتو سره د هغوی د خپلو پراختیایي پروژو د کار د اغیزمنې همغږې کولو او ارزولو او د معلوماتو او ارقامو د راټولولو او تحلیلولو د دندو د باکیفیته ترسره

### د پروژې خبرونه

- د سپورت استادانو د لومړنیو مرستو روزنه ترلاسه کړه (http://ez-afghanistan.de/ps/news/4148)
  10.05.1398 I خبرپاڼه
- د ملي پراختیایي پروژو تعقیبول، د افغانستان اقتصاد وزارت په ټولو ولایتونو کې د څارنې او راپور ورکونې ډیټابیس پیل کړ (http://ez-afghanistan.de/ps/news/3995)
  26.02.1398 I خبرپاڼه
- ریاضي څنګه تدریس کړو؟ د لومړنیو ښوونځیو د ۸,۰۰۰ تنو راتلونکو ښوونکو دپاره سمون ورکړل شوې روزنه (http://ez-afghanistan.de/ps/news/3958)
  12.02.1398 I خبرپاڼه

### اضافي معلومات

- Fact sheet: Reforming the Education Sector (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Bepa-d-7_Pashto.pdf)

کولو په لاره کې مرسته کیږي.

د انعطاف وړ پروګرام جوړوني د لومړیتوب په ډګر کې زمونږ د کار په باب د لازیاتو معلوماتو لپاره د پروژې توضیحاتو او د «کیسو» برخې ته مراجعه وکړئ.

## زمونږ کار پدی برخه کي



**د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوي سټنډرډونه او درسي نصابونه**

په افغانستان کې دلومړنیو زده کړو د اوږدمهال سمون ورکولو په موخه د المان فدرال حکومت د سویس د حکومت سره یوځای د افغانستان د پوهنې د وزارت څخه د هغه وزارت د ښوونکو د روزنې په برخه کې ملاتړ کوي او د لوست په محتوا کې د تنوع د تنظیمولو او د زده کوونکو له خوا د هغه د ښه پوهیدلو په اړه مرسته کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1313)

**د کیفیت او روڼتوب لپاره د شمیرو او معلوماتو راټولول**

د المان حکومت د افغانستان دولتي ادارو سره مرسته کوي چې د خپلو پراختیایي پروژو کار ته په ډیره ښه توګه سازمان ورکړی او ارزونه یې وکړي، د کیفی شمیرو او معلوماتو راټولول ترسره کړي او د دې کار لپاره د اړونده میکانیزمونو د کارولو لارې چارې زده کړي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/3757)